مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

روښان خادم ۲۰۱۸/۱۰/۲۹

# د یو ځواکمند ملی ګوند ضرورت

پرون مې د فیسبوک په مخ د ډاکتر صاحب ملت مل یوه لیکنه چې یوې ډیرې مهمې موضوع باندې یې تماس نیولی او څو اساسي سوالونه یې طرحه کړي وچې ځما توجه یې جلب کړه او یقین لرم چې په سلهاوو نورولوستونکو پاملرنه به یې هم جلب کړې وی. مخکښې له دې چې دهغه لیکنې ته راشم یو څو نورو خبرو سره په لنډیز تماس ضروری ګڼم چې د ملت مل صاحب پوښتنو ته دروازه پرانستل شی.

د اعلیحضرت محمد ظاهر خان د کال ۱۹۶۴ع اساسی قانون په افغانستان کښې د سیاسی انکشاف او پرمختیا د پاره زمینه برابره کړه او د قانون په چوکاټ کښې د احزابو د جوړیدو سره چې لا توشیح شوی نه وو د احزابو د جوړیدو فرصت مساعد کړ (۱۹۶۵-۱۹۶۹) او د افغان ملت، خلق دیموکراتیک ګوند، شعله جاوید، مساوات، صدای عوام، اخوان المسلمین، فعالو حزبونو ظهور وکړ او سیاسی فعالیتونو او مبارزو زور واخیست دغو احزابو ونشو کړای چې په افغانستان کښې سیاسی ماحول او خلک یو معقولی ملی سیاسی لارې ته برابر کړی او د یوه فعال سیاسی قوت په شکل د هغه وخت په پارلمان کښې راڅرګند شی، اما د سیاسی انسجام قوت مخ په زیاتیدو وچې سیاست، پارلمان، او انتخابات یې د ناخوالو سره مخ کړ او حکومت په پارلمانی انتخاباتو کښې لاس وهنی پیل کړی چې دا عمل د حکومت د یوه سیاسی میراث په توګه تر ننه حکومتونو ته را انتقال شوی دی . په کال ۱۳۸۲ل کښې د کرزی د جمهوریت په دوره کښې د احزابو قانون بیرته جوړ او د سیاسی فعالیتونو دروازی پرانستل شوی چې د ۱۳۸۸ ل کال تر آخره د عدلی په وزارت کښې ۱۱۰ لوی او واړه سیاسی حزبونه ثبت او راجستر شول چې د احزابو دغه تعدد د ملت د تشتت باعث شو او د مختلفو سیاسی نظریاتو او تفکر په نتیجه کښې یوه سیاسی پراګندګی او تضادونه منځ ته راوړل چې د یوه ځواکمنده ملی ګوند د جوړیدوتر مخه څنډونه ایجاد او د یو توانمند ملی سیاسی تشکل مخه د ملت په پارچه کولواو نورو فرعی سیاسی لوبو په وسیله په ډیره بند کړای شوه چې ځای یی د افغانستان په سیاسی ډګر ګښې تر اوسه خالی دی. سره له دې چې یو شمیر زړه سواندو ملی شخصیتونو چې په هغې کښې زه هم شامل وم د ډیرو کلونو را هیسی یی د دغه مصیبتونو په وړاندی پراخه هلی ځلی وکړی خو متأسفانه چې مؤثره نتیجه یې ورنکړه.
زما په نظر د احزابو تعدد خپله د حکومتونو د سیاسی قدرت د دوام او حکومتی پټو اجنداوو د لاس ته راوړلو د پاره د ملت په تندی یو سیاسی ضربه وه بله دا چې یوه ډله سیاسی حزبونه د دې د پاره چې د افغانستان نوی بی بنیاده حکومت او تجربوی دیموکراسی څخه ګټی تر لاسه کړی جوړ شو څکه دا په حکومت کښې د برخی اخیستو د پاره اسانه طریقه وه چې حکومت پری خلک روږدی کړی و نو کله چې حکومت په دا رنګه سیاسی لوبو بوخت شی او سیاست په چوکی معاوضه کړی نو احزابو ته کله د دی فرصت مساعد کیدی شی چې ملت په سیاسی انسجام او یوه مرکز را ټولولو یی کار وکړی . په یوه ۳۰ میلیونی؟ مملکت کښې ۱۱۰ حزبونه خپله یو لوی سیاسی سوال دی؟. که چیری دا نفوس په ۱۱۰ مساویانه تقسیم کړو نو د هر حزب غړی به ۲۷۲۷۲۷ تنه شی چې دا د ملت په زړه کښې د سیاسی تشتت بنیاد بنیبی .
که د دغه احزابو څخه پوښتنه وشی چې دوی د ملت د سیاسی شعور د ارتقا ، ملی پراختیا او ملی یووالی د ټینګیدو د پاره څه پروګرام لری؟ نو په یقین سره اتکل کیدی شی تول به د معارف او اقتصادی پرمختیاوو په تیوریو اتکا وکړی چې دا یو لویه سیاسی خامې ده . په داسی حال کښې چې احزاب په یو مملکت کښې د دیموکراسئ د پوهیدا او پراختیا د پاره ډیربنیادی او مؤثر کارونه کولای شی خو بد بختانه احزاب په افغانستان کښې فعاله سیاسی ونډه نه لری چې ملت یوی صحیحی سیاسی لاری ته سوق کړی . هغه حزبونه چې تر یوی اندازی فعاله سیاسی ونډه لری هغه هم د حکومت سره د سازشونو او چوکیو په بدل کښې ده نه د ملی فلاح او مشخصی سیاسی تګ لاری او ایدیال په خاطرنو داسی ویلای شو چې ننی احزاب د سیاست په جهانی هنداره کښې داسی بریښی چې د نوی او مدرن


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سیاست په چوکاټ کښی د ملی او بین المللی سیاسی حالاتو په تدقیق او تحلیل کښی نسبت نورو هیوادوته توانمندی نه لری .
په یو ملک کښی چې سیاست یی په سازشونو اوشخصی ګټو بنا وی هیڅکله یو ملی حزب جوړیدی نشی او د تبارز او بروز مخه یی نیول شوی وی ، نو ویلای شو چې په افغانستان کښی تر اوسه د ملت واقعی نماینده ملی حزب نشته او نه و.
د مرحوم اعلیحضرت د دیموکراسۍ په وخت کښی چې کوم احزاب موجود وو د هغوسیاسی هویت د ملی والی په لحاظ د سوالونو سره مخ دی او وو ، یوازنی حزب چې د بهرنیو اثراتو، لاسونو، او لاربښوونو څخه پاک د ملت د ارمانونو د پوره کیدو دپاره بنیان ګزاری اوجوړ شوی و هغه د افغان ملت (افغان ټولنپال ولسواک ګوند) و چې متاسفانه په خپل سیاسی سفراو منزل کښی تری لاره ورکه شوه او د ملی خط السیر نه ووت ، د دی ګوند بنیاد د افغانستان د ټولو پرګنو د ګډ فعالیت د یو محور په حیث اینبودل شوی و خو د ګوند د یو عده احساساتی ځوانانو او هدفمندانو له خوا یوازی د پښتنو د حزب په نامه مسمی شو چې دا تغیر د ګوند په اصلی مسیر کښی ۱۸۰ درجی څرخیدل دی چې ګوند یي د ملی لاری څخه بي لاری کړ. چپی ، چپي افراطی ، راستی افراطی ګوندونو ونشو کړای چې د افغانستان په سیاسی ډګر کښی د یوه ملی متشکل ډلی او ارګان په حیث څر ګند شی ، دوی د ملت په ځای په پردو متکی شول او د خپلو وطنوالو په وژلو و ترور ، تعذیب او شکنجو مصروف شول . دوی د قدرت د لاس ته راوړلو لنډه لاره لټوله او دا ورته مهمه نه وه چې څرنګه د چا او کومی لاري قدرت لاس ته راوړی ځکه دوی د قدرت مشروعیت د ملت له خوا نه مانه بلکی په دی عقیده و چې قدرت اخستل او په زور یی په ملت تحمیلول آسانه دی، نو هیڅ وخت ورته د ملی ګوند نسبت نشی کیدی . نو بناً ویلای شو چې ۱۳۴۴ کال څخه را په دی خوا د یو ځواکمنده ملی ګوند ژوره او پراخه ګوند خلا موجوده ده .
په یو ساده تحلیل سره کولای شو د افغانستان احزاب په دریو ډلو تقسیم کړوچپیان، راستیان او ملی ګریان او بیا د یوه ملی ګوند په لټه کښی شو، که د دغه احزابو نومونو ته زیر شو حتی د یوه په نوم کښی د ملی کلمه نشته ، د ملی ګوند په یو عامیانه تعریف کښی داسی ویلای شو چې یو ملی ګوند باید د ملت د ټولو پرګنو څخه جوړ شوی وی چې په یوه ملی تشکل کښی د ملی ګټو او ملی شووناتو په ساتلو او تحفظ معتقد وی چې د قانون په چوکاټ کښی د ټولو پرګنو د ملی حقوقو ساتندوی ، د ملت د هوساینی او بسیا کیدو د پاره سیاسی، ټولنیز، او اقتصادی پروګرام ولری او د ملت جوړنۍ او ملی حاکمیت مشروعیت د هغه په اصلی مرجع پوری چې د ملت اراده ده تړلی او منوط وګڼی او ورته متعهده و اوسی .
اوس نو که د دغه دریو ډلو څخه لومړی د چپیانو اوبیا د اخوانیانو هره ډله د پورتنی تعریف په تله وتلو نو هیڅ به هم تر لاسه نه کړو او داسی دلیل په پیدا نشی چې د دی ډلو ملی توب څرګند کړی نو بنا ویلی شو چې د ملی ګوند نه موجودیت یو تاریخی حقیقت دی
بله طرحه شوی موضوع چې څه موده وړاندی ما د فیسبوک په پاڼه لیکلی وه د «ملی زعامت» موضوع وه چې موجودیت او نه موجودیت یې پلټل غواړی خو د همدغه تحلیل په بنیاد ځواب یې ډیر ساده دی چې ملی زعامت نشته. زخو په دی عقیده یم چې ملی زعامت په څو طریقو منځ ته راتلی شی.

۱- الله پاک په یو ملت کښی یو څوک را پیدا کړی د زعامت په ټول خصوصیاتو یی جوړ کړی زعیم او رهبر شی او ملت ورپسی روانشی
۲- یو څوک چې د ملی زعامت خصوصیات ولری را پورته شی د ملت د زعیم په شکل د ملت په راټولولو پیل وکړی او ملت پری راټول شی
۳- ملت د یو کس په سر د زعامت تاج کیږدی د غنمو په وږیږو یې سینګار کړی او ور بسی ودریږی .
۴- بله طریقه داده چې باید ملی زعامت د یوه ملی توانمنده ګوند له منځه را پورته شی . پورتنی دری طریقی خو د الله رضا نه ده ځکه خو دا بدی ورځو لرو نو پاتی کیږی څلورمه لار چې هغه هم نشته ځکه کله چې ملی ګوند موجود نه وی نو ملی زعامت به له کومه را پورته کیږی ؟ نو همدا دلیل دی چې د زعامتونو بازار ګرم دی . په نتیجه کښی داسی ویلای شو چې په افغانستان کښی د ملی توانمند ګوند او ملی زعامت ستره ژوره او پراخه خلا موجوده ده

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ